IslamHouse.com
مرکز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com

# د حج له مقاصدو څخه



ليکوال
**خالد بن صالح السلامة**
ژباړن
**عبدالرحيم سلطان**

Pashto
بشتو

# من مقاصد الحج

تأليف

**خالد بن صالح السلامة**

ترجمة

**عبد الرحيم سلطان**

PASHTO
بشتو

ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالربوة، ١٤٤٠هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

خان، عبدالرحيم سلطان

من مقاصد الحج - اللغة البشتو . / عبدالرحيم سلطان خان. - الرياض، ١٤٤٠هـ

٦٤ ص، ١٢ سم x ١٦,٥ سم

ردمك : ٩٧٨-٦٠٣-٨٢٤٩-٣٣-٨

١- الحج    ٢- الحج - مناسك    أ. العنوان

ديوي ٢٥٢,٥    ١٤٤٠/١١٤٧١

رقم الايداع: ١٤٤٠/١١٤٧١

ردمك : ٩٧٨-٦٠٣-٨٢٤٩-٣٣-٨

مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com

أُعد هذا الكتاب وصمّم من قبل مركز أصول، وجميع الصور المستخدمة في التصميم يملك المركز حقوقها، وإن مركز أصول يتيح لكل مسلم طباعة الكتاب ونشره بأي وسيلة، بشرط الالتزام بالإشارة إلى المصدر، وعدم التغيير في النص، وفي حالة الطباعة يوصي المركز بالالتزام بمعاييره في جودة الطباعة.

+966 504 442 532

+966 11 445 4900

+966 11 497 0126

P.O.BOX 29465 Riyadh 11457

osoul@rabwah.com

www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحيم



| | |
|---|---|
| مقدمه | ۹ |
| إتمام الحج حج پوره ادا کول | ۱۳ |
| دحج په مقصدونو کښې اول مقصد | ۲۱ |
| دحج په مقصدونو کښې دوهم مقصد | ۳۱ |
| دحج په مقصدونو کښې دريم مقصد | ۳۵ |
| دحج په مقصدونو کښې څلورم مقصد | ۳۷ |
| دحج په مقصدونو کښې پنځم مقصد | ٤۳ |
| دحج په مقصدونو کښې شپږم مقصد | ٤۷ |
| دحج په مقصدونو کښې اوم مقصد | ٤۹ |
| دمکې مکرمې خاص صفتونه (بيلګې) | ۵۳ |
| خاتمه | ۵۹ |


مخرج
EXIT

# مقدمة

الحمد لله الذي أكرم أوليائه بالعلم النافع والعمل الصالح، فجعل من ثمرة علمهم خشيته، والإنابة إليه، رفع بهذا العلم أقواما فجعلهم أعلى الناس منزلة، وملأبه قلوبا فأحبته، واشتاقت للقائه، وأشغل به جوارحا فأطالت وقوفها بين يديه. والصلاة والسلام على خير من عرف ربه، فانشغل بذكره عن ذكر غيره، وأخلص له عبوديته، وصلاته ونسكه ومحياه ومماته، حتى اصطفاه ربه وأحبه، فرضى عنه وأرضى عنه الصالحين من خلقه،

ربنا إن العلم كله بيديك فارزقنا أحبه إليك، وارفع به مقامنا عندك، اللهم زد به أعمالنا، واغفر به ذنوبنا، واشرح به صدورنا واجعله خالصا لوجهك الكريم، اللهم إنا نسألك التوفيق والسداد لما تحبه وترضاه في نياتنا وأقوالنا وأعمالنا. أما بعد:

مسلمانه او حاجي وروره.... الله سبحانه وتعالی ته انقیاد او تسلمیدل ښومره ښایسته او ښکلی مقام دی، او دا دمؤمنانو نښه او علامه ده، که یو بنده ته د تسلمیدو سره سره دعلم مقام زیاتې ورکړی شي نو په دي سره به دابنده خپل رب ته ډیر نیژدي شي، یا الله زمونږ تسلمیدل ستا شرعې ته او زمونږ علم او نیک عمل زیات کړې، او ستا درحمت په وجه باندي يي زمونږ نه قبول کړې، ای مینه ناک ذاته، یقینا ته بي پرواه او عزتمند ذات يي.

حاجي ورورہ: ته چه په حج کښي کوم اعمال تر سره کوي دا ډیر ښایسته او بهترین کار دی، اګر که تاته دهغي بشپړه او پوره معلومات نه وي.

پس همدومره کافي ده چه تاته داعلم وي چه ته ددي اعمالو په اداکولو سره دالله جل جلاله عبادت کوي، دا د الله جل جلاله دبنده ګۍ او هغه ته دتسلمیدو تقاضاه ده.

او ددینه ډیره بهتره به داوي چه ته دالله جل جلاله نه ډیري دعاګاني اوغواړي چه ستا علم زیات کړي، ستا دعاګاني به قبولي کړي او دعلم دروازي به دربانديراکولاو کړي نو ته به دحج دبعضي اعمالو حکمتونه اوپیژنې، الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿ وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴾ [العنكبوت: ٦٩]

**او هغه کسان چه ځان کړوي زمونږ په رضا کښي خامخا خائيم به دوي ته لاري زمونږ او یقینا الله تعالی خاص ملګری دی، دخایسته عمل کونکو.**

نودا به ښومره ښه وي چه مونږ دا اوپیژنو چه مکه مکرمه ولي په یوه شاړه کنده کښي واقع ده چه فصلونه وغیره په کښي نه کیږي، مکه مکرمه ولي په داسي زمکه کښي نده واقع چه فصلونه، باغونه او نهرونه پکښي موجود وای، او حاجیانو او عمره کونکو دالله تعالی په دي محبوبه (خوښه) ټکړه دزمکه کښي راحتونه او خوندونه حاصلولی؟.

او ولي دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم دخصوصیتونو نه داده چه دهغه قدمونه اوبدن مبارک، دعرفې دزمکې سره ندي

لګیدلي، په حجة الوداع کښي، بلکې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم دعرفې په ورځ په سورلۍ باندي وو، تردي پوري چه خطبه يي هم په داسي حال کښي وويله  چه په سورلۍ باندي وو؟. او همدارنګه ولي نارینه او زنانه، دیوبل سره ګډ وډ او یو ځاي وي د طواف په دوران کښي؟

او همدارنګه دجمرات (کاڼو ویشتلو) په وخت، د یو وړوکي ځلي(نښې) په خوا کښي، هم نارینه او زنانه د یوبل سره په ډیره ګڼه کښي ګډ وډ او یو ځاي وي، سره له دینه چه دا دالله سبحانه وتعالی عادت نه دی، په نورو عباداتو کښي، او الله تعالی قادر دی چه اساني راولي په خپلو بنده ګانو باندي؟.

او همدارنګه ولي په مونږ ضروري ده چه شپه په مزدلفه کښي اوکړو چه کله دعرفات نه را واپس شو، او سره له دینه چه منی هم نیژدي ده مونږ ته، او زمونږ سامانونه وغیره هم په منی کښي وي؟.

او ددینه علاوه نور لوي لوي حکمتونه هم په اعمالو دحج او عمره کښي شته.

په دي کښي هیڅ شک نشته چه دحج په ټولو اعمالو کښي لوي لوي حکمتونه او مقصدونه دي، خو څوکورباندي پوهیږي او څوک ورباندي نه.

ددي لپاره ما کوشش کړیدی په دي یو څو کرښو کښي چه دي حکمتونو طرف ته دخلکو ذهنونه متوجه کړم، او توجه یي ورته را اوګرځوم.

په داسي حال کښي چه دالله تبارک وتعالی نه کومک او مدد غواړم، یقینا زمونږ رب به مونږ ته ښښنه اوکړي، او په مونږ به رحم اوکړي، او مونږ ته به خپله سیده لار را اوښايي.

سره له دینه چه ما په دي لیکلو کښي دفقهي احکامو ډیر اهتمام او کوشش ندی کړی، ځکه چه دفقهي احکامو لپاره خپل مناسب ځاي وي لکه څنګه چه علماو داحکامو په کتابونوکښي دهغي په اړوند لیکل کړیدي، لیکن زه به په دي لیکلو کښي دحج هغه لوې لوې حکمتونه

ذکر کوم دکومو نه چه ډیر حاجیان غافله دي، بلکه ډیر هغه څوک چه دحج په اړوند يي ليکل هم کړيدي، ددي حکمتونو نه غافله دي.

دا په داسي حال کښي چه زه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په دي وینا باندي عمل کوم:

**«رب حامل فقه إلی من هو أفقه منه»**[1].

**ډیرکرته وي یو بیانونکی دعلم هغه چاته چه هغه دده نه ډیر پوهه وي.**

دا په داسي حال کښي چه زه هغه څوک هم متوجه کول غواړم کوم چه دحج په دي حکمتونو او مقصدونو باندي ښه قادر دي، او کولاي شي چه دامقاصد ښکاره او ښه واضحه بیان کړي، هغه څه چه په دې لیکلو کښي حق وي نو هغه به صرف د الله تعالی له طرف نه وي، او هغه څه چه په دي لیکلو کښي خطا وي نوهغه به زما دنفس او شیطان له طرف نه وي.

(۱) أخرجه أبو داود وابن ماجة وصححه الألباني.

# إتمام الحج
# حج پوره ادا کول

الله تعالی فرمايي:

﴿وَأَتِمُّوا۟ ٱلْحَجَّ وَٱلْعُمْرَةَ لِلَّهِ﴾ [البقرة: ١٩٦]

او پوره کړي حج او عمره خاص الله لره.

دحج پوره اداکول په دري طريقو سره کيږي:

١ اول: دحج پوره اداکول دزماني په لحاض سره.

٢ **دوهم**: دحج پوره اداکول د ځاي په لحاض سره.

٣ **دريم**: دحج پوره اداکول دطريقي په لحاض سره.

ددي پوره وضاحت په داسي طريقې سره کولاي شو.

**اول: دحج پوره اداکول دزماني په لحاض سره:**

حج بايد په هغه وخت کښي اداکړی شي کوم وخت چه الله تعالی دحج د اداکولو لپاره مقرر کړی دی، ددي مقرر وخت نه نه بايد مخکې کړی شي او نه رستو، او په حج کښي چه کوم عبادات دي دهغي لپاره هم خاص وخت مقرر شوی دی، او ددي لپاره څه خاص مقصدونه دي چه هغه په همدي وخت کښي حاصليږي، نو چاچه په دي کښي دوخت لحاظ ونه کړه، نو ده يقينا په دي مقصدونو کښي کوتاهي او کمی اوکړو، الله تعالی فرمايي:

﴿ٱلۡحَجُّ أَشۡهُرٞ مَّعۡلُومَٰتٞۚ﴾ [البقرة: ١٩٧]

وخت داحرام دحج میاشتې مقرر دي. او همدارنګه الله تعالی فرمايي:

﴿وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ فِيٓ أَيَّامٖ مَّعۡدُودَٰتٖۚ﴾ [البقرة: ٢٠٣]

يادکړې الله تعالى په ورځو شمارلی شو وکښي.

ددي په مثال کښي داسي وايو، لکه يو کس عجلت (بيړه) اوکړه او په مزدلفه کښي يي شپه تيره نه کړه، او دشپې دنمايي نه مخکښي ووت، او همدارنګه هغه کس چه په دولسمه ورځ دذ الحجي باندي يي دنمر دزوال نه مخکښي رمي (ويشتل) دجمراتو اوکړل، نو په دي ټولو صورتونو کښي يي دحج دمقصدونو مخالفت او په هغي کښي کمی اوکړه.

**دوهم دحج پوره اداکول د ځاي په لحاض سره:**

هغه عبادات چه دحج سره متعلق دي، بايد په هغه ځايونو کښي ادا کړی شي، کوم ځايونه چه الله تعالى ددي عباداتو لپاره مقرر کړي دي. ځکه چه ددي هر يو ځاي لپاره څه خاص مقصدونه دي، چه هغه صرف په همدي ځاي کښي حاصليږي، نو چا چه ددي ځايونو لحاظ اونه کړه، نو ده يقينا په دي مقصدونو کښي کوتاهي او کمی اوکړه.

ددي مثال لکه په عرفه کښي ودريدل شو، په عرفه کښي ودريدل دحج رکن دی، ليکن دعرفات خپل حدود دي، په هغي کښي دننه ودريدل ضروري دي، او همدارنګه چه کله حاجي دعرفات نه راواپس شي نوټوله شپه او يا دشپې اکثره حصه په مزدلفه کښي تيرول ضروري دي.

او همدارنګه يو څو معلومي شپې (١١- ١٢- ١٣) په منی کښي تيرول دي،

او ددي حدودو نه بهر وتل نه دي ښکار مګر دضرورت دوجي لکه اوس په دي زمانه کښي د ډيري ګڼې له وجي نه په منی کښي کله ځاي نه ملاويږي.

او همدارنګه که مونږ اندازه ولګوو نو بعضي اعمال او عبادات په حج کښي دحاجيانو دډير والي له وجي نه ډير په تکليف سره اداکيږي، لکه دجمراتو ويشتل شو اوهمدارنګه طواف او دحجر اسود ښکلول شو، ددي اعمالو داداکولو لپاره وخت څه مياشتي نه دي مقرر شوي، او نه ددي اعمالو لپاره ځايونه ډير مقرر شوي دي چه ډيره ګڼه کمه شي.

بلکه په معين وخت او ټاکلي ځايونو کښي دا اعمال اداکيږي، برسيره پر دي چه دا اعمال به نارينه او زنانه ټول اداکوي صرف دنارينه پوري دا اعمال خاص نه دي، بله داچه ددي اعمالو اداکول په حج کښي په نارينه او زنانه ټولو باندي ضروري دي، په دي کم وخت او ټاکلي ځايونو کښي، الله سبحانه وتعالی پوهه او دحکمت والا ذات دی، او ددي اعمالو دادا کولو په وخت کښي چه کوم ازدحام (ګڼه) وي او همدارنګه دنارينه او زنانه ديوبل سره ګډوډ کيدل وي، په دي ټولو احوالو باندي الله تعالی پوهه دی، خو په دي کښي دالله تعالی ډير لوي حکمتونه دي.

**دريم: دحج پوره اداکول دطريقي په لحاظ سره:**

هغه چه مونږ بايد د دري قسمه احکامو لحاظ وساتو:

- **دحج مقصدونه.**
- **دحج فقهي احکام.**
- **په حج کښي بعضي عام مصلحتونه: او دتفصيل لپاره داسي وايو:**

١ اول قسم احکام دحج مقصدونه، ددي پوره تفصيل به په خپل ځاي کښي راشي، ان شاء الله.

٢ دوهم قسم دحج فقهي احکام، لکه واجب مستحب او مکروه حرام وغيره شو، ددي احکامو متعلق علماء کرامو پوره تفصيل او وضاحت کړی دی، بايد دغه کتابونو ته رجوع اوکړی شي.

٣ دريم قسم په حج کښي عام هغه مصلحتونه کوم چه دحج په ادا کولو کښي مرستندويه دي، لکه د ترافک او لاري ترتيب شو او همدارنګه د نظافت پاکۍ او د اوسيدلو ترتيب وغيره شو.

ددي عامو مصلحتونو لحاظ ضروري دی، ډير خلک ددي لحاظ نه کوي نو داعمالو په اداکولو کښي ډير مشکل پيداشي، او په ټاکلي وخت سره اعمال ادا نه کړی شي.

که چيرته ټول خلک ددي خبرو لحاظ اوکړي، نو ډير په اسانه به دا اعمال تر سره کړي.

**سؤال: ښنګه کولاي شو چه حج په پوره اوکامله طريقې سره ادا کړو، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمايلي دي:**

﴿وَأَتِمُّواْ ٱلۡحَجَّ وَٱلۡعُمۡرَةَ لِلَّهِۚ﴾ [البقرة: ١٩٦]

**او پوره کړي حج او عمره خاص الله لره.**

ددي په جواب کښي داسي وايو، هو مونږ کولاي شو چه پوره طريقي سره دحج فريضه ادا کړو خو چه کله مونږ ددري خبرو لحاظ او اهتمام اوکړو.

١ اول داچه مونږ باید پوره کوشش اوکړو چه دحج طریقه په ښه توګه زده کړو، او دهغې په حقیقت ځان پوهه کړوځکه چه دالله تعالی وعده ده چه کله مونږ خپل کوشش جاري اوساتو دهغه درضالپاره، نو مونږ ته به دخپلې رضا لارې راوښايي، لکه چه الله تعالی فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ﴾ [العنكبوت: ٦٩]

**هغه کسان چه ځان کړوي زمونږ په رضا کښې خامخ خايم به دوي ته لارې زمونږ او يقينا الله تعالی خاص ملګرى دى د خايسته عمل کونکو.**

او همدارنګه مونږ باید دالله تعالی نه دعا اوغواړو چه مونږ ته ددې مقاصدو صحيح پوهه رانصيب کړي، او توفيق راپه برخه کړي چه په هغه طريقه باندې يې اداکړو کومه چه الله تعالی ته خوښه وي. الله تعالی فرمايي:

﴿وَقُل رَّبِّ زِدۡنِي عِلۡمٗا﴾ [طه: ١١٤]

**او اوايه اى ربه زياتي کړې زما علم.**

اوهمدارنګه باربار په قران او حديث کښې ښه سوچ او فکر کول، او دعلماو نه ددې متعلق سؤال کول، او دهغوي کتابونه مطالعه کول کوم چه ددې مسائلو متعلق ليکل شوي دي، او ددې سره سره دعلماو مجلسونو ته حاضريدل او دهغوي نه ددې مسائلو باره کښې استفاده کول.

٢ دوهم داچه مونږ باید ددې اعمالو په ادا کولو کښې پوره کوشش اوکړو، او په کاملې طريقې سره يې اداکړو الله تعالی فرمايي:

﴿ وَٱتَّبِعُوٓاْ أَحۡسَنَ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُم ﴾ [الزمر: ٥٥]

**او تابعداري اوکړې دخائسته هغه چه نازل کړی شوی دی تاسوته دطرف درب ستاسونه.**

او همدارنګه دهر يو عبادت په اداکولو کښي پوره کوشش کول پکار دی، او دنفسي خواهشاتو له وجي نه بايد په عبادت کښي تقصير او کمی واقع نه شي، بلکه په پوره اهتمام سره عبادت اداکول پکار دي، ځکه چه دنيا دعمل لپاره يو فاني کور دی، او اخرت بيا د اعمالو دبدلو ورکولو لپاره او هميشه کور دی.

٣ دريم داچه مونږ بايد غمژن شو په هغه اعمالو باندي کوم چه ديو شرعي عذر له وجي نه (لکه ناپوهي او هيره وغيره) سره له مونږ نه په هغي کښي تقصير او کمی واقع شي، او ورسره دالله تعالی نه ډيره ببنه او معافي اوغواړو، او ددي اعمالو دقبليدلو لپاره دالله تعالی نه دعا اوغواړو.

کيدی شي چه الله تعالی دخپل فضل او احسان دوجي نه زمونږ دا عباداتونه قبول کړي، او دخپل کرم دوجي نه هغه کمي چه زمونږ نه واقع شوی دی پوره کړي، مونږ بايد دحج نه واپس شو په داسي حال کښي دالله تعالی نه ددي اعمالو دقبليدلو تمه او اميد لرو، او ددي نه بايد اوويريږو چه هسي نه چه زمونږ دتقصير او کمي دوجي نه دا اعمال مو ضائع نه شي.

اوس دلته اول قسم احکام دحج بيانوو، دطريقي په لحاظ سره چه هغه دحج مقاصد(مقصدونه) دي، يعني دحج مقصدونه پيژندل، او دهغي په صحيح طريقي سره اداکول، تفصيل يي دادي:

دحج مقاصد هغه لوي فائدي او حکمتونه دي، دکومو لپاره چه حج مشروع شوی دی.

نو په ټولو کښي لوي مقصد دحج (د الله جل جلاله عبادت کول دي) لکه په دي ايت کريمه کښي ذکر دي:

﴿وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ مَنِ ٱسۡتَطَاعَ إِلَيۡهِ سَبِيلٗاۚ﴾ [آل عمران: ٩٧]

**او دالله تعالی لپاره په خلکو باندي حج دبيت الله (فرض) دی په هغه چا چه طاقت لري هغي ته دلارې.**

هر يوحاجي دا مقصد چه (دالله تعالی عبادت کول دي) بايد اوپيژني، او په دي باره کښي دهيچا لپاره ناپوهي معتبره نده.

او دا لوي مقصد (دالله تعالی عبادت کول) نه پوره کيږي او نه په کامله توګه ادا کيږي مګر په يو څو لوي لوي مقصدونو سره کوم چه ددي مقصد لپاره ضروري دي، لکه دالله تعالی سره محبت کول، او دهغه تعظيم کول، او هغه نه اميد لرل او دهغه نه ويريدل، او په هغه باندي ځان سپارل او هغه طرف ته رجوع کول.

دابعضي هغه مقصدونه دي دکومو لپاره چه حج مشروع شوی دی. او ددي مقاصدو پيژندل په خلکو باندي ضروري دي، ددي لپاره بايد پوره کوشش اوکړي او زده يي کړي، حالانکه خلک ددي په باره کښي متفاوت دي.

په حاجي باندي ددي مقصدونو تفصيلي پيژندل واجب نه دي مګر څومره چه ددي په باره کښي کوشش اوکړي په همغه اندازه به يي دالله تعالی په نيز باندي اجراو ثواب زيات وي.

ددي له وجي نه دحاجيانو اجر اوثواب متفاوت وي، لکه الله تعالی فرمايي:

﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾ [الزمر: ٩]

**اوايه ايا برابر دي هغه کسان چه علم لري او هغه کسان چه علم نه لري يقينا نصيحت قبلوي خالص عقل والا.**

غوارو چه په دي پړاو کښي دحج په مقصدونو باندي سوچ فکر او غور اوکړو، نيزدې ده چه الله تعالی به په دي سره زمونږ ايمان تابعداري او نيک عملونه زيات کړي، او دالله تعالی نه سؤال کوو، چه مونږ ته اخلاص او توفيق رانصيب کړي، او مونږ هغي لاري ته برابرکړي کومه چه الله تعالی ته خوښه وي او وربا ندي راضي کيږي، الله تعالی فرمايي:

﴿وَقُل رَّبِّ زِدْنِى عِلْمًا﴾ [طه: ١١٤]

**او اوايه ای ربه زما علم زيات کړي.**

يقينا مخکي داخبره ذکر شوه چه دحج په مقصدونو کښي لوي مقصد دالله تعالی عبادت کول دي، او ددي عبادت لپاره څه ضروري خبري دي، چه هغه هر يو دحج مقصد دی.

### دامقصدونه کوم او څه دي؟

بلکه دايو مهم سؤال دی چه د حج داعمالو په اداکولو سره به دا مقصدونه څنګه حاصل شي؟ ددي سؤال دجواب لپاره مونږ کوشش کوو چه واضحه بيان اوکړو اوپه دي کښي دالله تعالی نه مرسته او مدد غواړو.

# دحج په مقصدونو کښي اول مقصد

دالله تعالی سره مینه او محبت کول دي، الله تعالی فرمايي:

﴿ قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴾ [التوبة: ٢٤]

ته اووایه که وي پلاران ستاسو

**او ځامن ستاسو او ورونه ستاسو او ښځي ستاسو او قبیلې ستاسو او هغه مالونه چه ګټلي يي تاسو هغي لره او تجارت چه ویریږي د کوټه کیدلو د هغي نه او هغه کورونه چه خوښه وئ تاسو هغي لره، ډیرخواږه دي تاسوته دالله تعالی نه او دهغه درسول صلی الله علیه وسلم نه او دجهاد نه په لاره دهغه کښي، پس انتظار اوکړئ تر دي چه رابه ولي الله تعالی فیصله خپله او الله تعالی توفیق نه ورکوي قوم نافرمان ته.**

حاجي وروره، په دي خبره سوچ اوفکر اوکړه چه ته تر هغه وخته پوري دحج فريضه نه شي اداکولای ترڅو پوري چه دخپل ژوند محبوب څیزونه پري نږدې دحج دفريضي لپاره به خپل محبوب وطن پریږدي، خپله مینه ناکه ښځه به پریږي، او همدارنګه خپل ښکلي بچي به پریږدي، او خپل هغه کور کلی به درنه هم پاتي کیږي په کوم که چه ته رالوېِ شوي وي

او ورپه کښي اوسيږي، او همدارنګه خپل کار روزګار به درنه هم پاتي کيږي. او داټول دژوند محبوب څيزونه ته په داسي حال کښي پريږدي،

چه ته په دي نه پوهيږي چه ايا واپس روغ راتللی شي او که نه، او ددي سره سره ته څه داسي ځاي ته نه يي روان چه هلته شنکي وي او ښکلي باغونه وي بلکه ته يو داسي ځاي ته روان يي چه يوه شاړه زمکه ده هيڅ شينکي وغيره په کښي نشته، او ډيره ګرمي لري، او ګڼه ورپکښي هم وي، چه هغه دمکې مکرمي زمکه ده.

او که چيرته مکې مکرمي ته ورسيږي او ستا سره يو محبوب څيز وي، نو دغه محبوب څيز به دالله تعالی دمحبت لپاره پريږدي، مثلاً که خپله مينه ناکه ښځه درسره وي، او ښکلي عطر لباس وغيره در سره وي، نو دا محبوب څيزونه، په تاباندي حراميږي، چه کله داحرام لباس واچوي.

بلکه په مکه کښي نور لوي لوي محبوب څيزونه دي، لکه مسجد حرام شو، کعبه شريفه، او حجر اسود، شو او مقام ابراهيم او دزمزم اوبه او دحرم زمکه داټول محبوب څيزونه دي.

کيدی شي (الله تعالی ښه پوهه دی) چه مقصد دلته دبنده امتحان او ازميښت وي، او هغه داسي که چيرته بنده ته الله تعالی دټولو څيزونو نه زيات محبوب وي، نو دحج په لويه ورځ دی دا ټول محبوب څيزونه پريږدي، دالله دامر اوحکم په اساس دي عرفې ته ولاړ شي، زمکه دعرفې دحرم دحدودو نه بهر ده.

هلته په زمکه دعرفه کښي دحاجي سره دامحبوب څيزونه يو هم نه وي، اويواځي الله تعالی ورسره وي، اودادليل دی چه ده ته الله تعالی دټولو

محبوب څيزونه ډير محبوب دی، او دارشتنی محبت اواخلاص دی، دالله تعالی سره هم په وینا کښی او هم په عمل کښي.

**سؤال: آیا په صحیح احادیثو کښي دا ثابته ده چه درسول الله صلی الله علیه وسلم قدمونه او بدن مبارک دعرفي دزمکې سره لګیدلی دی؟**

یقینا ما داحادیثو صحیح ډیر هغه کتابونه مطالعه کړي دي، کومو کښي چه دحج پوره طریقه ذکر ده، لیکن ما هیڅ یو داسي دلیل یا اشاره اونه لیده چه داثابته کړي چه درسول الله صلی الله علیه وسلم قدمونه یا بدن مبارک دعرفي دزمکې سره لګیدلی دی، بلکه داسي اشارات شته چه هغه داثابتوي چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم قدمونه یا بدن نه لګیدل دعرفي دزمکي سره، دا مقصود او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پوري خاص دی، بعضي دهغي دلائلو نه دادی چه الله سبحانه وتعالی خپل نبي محمد صلی الله علیه وسلم ته څه امرونه کړی وو چه کله عرفې ته تللو په دي کښي سوچ او فکر پکار دی.

الله سبحانه وتعالی خپل نبي محمد صلی الله علیه وسلم ته امر کړی وو، چه دعرفات دحدودونه لږ مخکې دیو څو مترو په فاصله کښي په وادي(عرنة) نومي ځاي کښي حصار شي، دعرفات دحدودونه بهرخوراک څښاک اوارام اوکړي.

اوهمدارنګه اودس اوکړي، او بیا چه کله نمر زوال اوکړو، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپلو صحابه کرامو رضوان الله علیهم ته امر وکړو چه دیو یا دوو مترو په اندازه دعرفات حدودوته دننه داخل شي، او خپله نبي کریم صلی الله علیه وسلم دعرفات دحدودونه دیو یا دوومترو په

فاصله بهر وو او په همدې حال کښې يې صحابه کرامو ته خطبه او مونځ ورکړه او چه کله دخطبې او لمونځ نه فارغه شو، نو په خپله سوارلۍ (اوښې) باندې سپور شو او دعرفې ميدان ته داخل شو، او دخپلې سورلۍ نه راکوزنه شه تردې پورې چه نمر پريوته، لکه ددې وضاحت په ډېرو نصوصو کښې موجود دی.

او چه کله نمر پريوته نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم دعرفې نه ووت په داسې حال کښې چه قدمونه مبارک يې دعرفې دزمکې سره اونه لګيدل په حجة الوداع کښې، او دا دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دخصوصياتونه ده (والله اعلم).

**سؤال: په دې کښې څه حکمت دی چه دنبي کريم صلى الله عليه قدمونه مبارک دعرفې دزمکې سره اونه لګيدل په حجة الوداع کښې؟**

داخبره يقيني معلومه ده چه درسول الله صلى الله عليه وسلم او دهغه داثارو سره هريو مؤمن ډېر محبت کوي، بلکه اوس هم ډېر خلک ددې تلاش او لټون کوي،

او الله تعالى داغواړي چه په عرفه کښې دبنده ګانو زړونه صرف دخپل رب سره متعلق وي، او دالله تعالى دتعلق نه بغير په بل محبوب څيزباندې مشغوله نشي، اګرچه درسول الله صلى الله عليه وسلم اثار ولې نه وي.

نو کيدی شي چه حکمت داوي (الله تعالى) ښه پوهه دی، که چيرته درسول الله صلى الله عليه وسلم اثار وی، په عرفه کښې نو ډېر خلک به په دې اثارو باندې مشغوله شي، په دې عظيمه ورځ او زړونه به يې دخپل رب دمحبت نه دبنده محبت ته متوجه شي.

ولي به داسي نه وي: مونږ په دي پوهيږو چه ډير خلک له دي وجي نه ګمراه شوي او ګمراه کيږي، چه هغوي دنيکانو بنده ګانو په محبت او دهغوي په آثاروکښي غلو(زياتی) کوي.

- **اول شرک چه په مخ دزمکه باندي دنوح عليه السلام په زمانه کښي شروع شو، آيا دهغي سبب دانه وو، چه دغه قوم دنيکانو بنده ګانو په محبت کښي غلو(زياتی) شروع کړو او بيا په شرک کښي واقع شو؟**

- **ايا نصاری دعيسی عليه السلام سره په محبت کښي دغلو (زياتي) کولو له وجي نه ګمراه نشو؟**

- **او همدارنګه شعيه ګان دعلي او حسين رضی الله عنهم سره په محبت کښي د غلو له وجي نه ګمراه نشو؟**

اوهمدارنګه بعضي صوفيه دجيلاني وغيره سره په محبت کښي دغلو له وجي نه ګمراه شوي دي، ځکه چه دوي ددي نيکانو بنده ګانو سره داسي محبت کوي کوم چه دالله تعالی دمحبت سره مشابه وي، نو ددي له وجي نه هلاک شي.

نو حاجيان بايد دې خبري ته ښه متوجه اووسيږي چه دعرفي په ورځ دعرفات په ميدان کښي بايد ددوي زړونه يواځي دخپل رب سره متعلق وي، اونور ټول محبوب څيزونه پريږدي.

او کله په بنده باندي درب دمحبت په باره کښي ازميښت او امتحان کيږي، هغه داسي چه دبنده يومحبوب اوخوښ څيز وي او دابنده هغي ته ډير ضرورت هم لري ليکن الله تعالی يي دهغي نه منعه کوي، ددي لپاره

چه په دي بنده باندي ازمیښت او امتحان اوکړي، چه دابنده دخپل رب سره ډیره مینه لري، او که نه ددي بل محبوب څیز سره.

په دي باره کښي دصحابه کرامو حال داوو، چه دوي دفقر او فاقې په زمانه کښي دحج لپاره احرام وتړلو او په دي حالت کښي په دوي باندي ښکار کول حرام وو، لیکن د امتحان او ازمیښت لپاره به ددوي مخې ته ښکار ډیر راتللو، لکه الله تعالی فرمائي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَيَبۡلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلصَّيۡدِ تَنَالُهُۥٓ أَيۡدِيكُمۡ وَرِمَاحُكُمۡ لِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴾ [المائدة: ٩٤]

**ای ایمان والو: خامخا ازمیښت کوي په تاسو الله تعالی په څه څیز سره دښکار نه چه رسي هغي ته لاسونه ستاسو او نیزي ستاسو دي لپاره چه ښکاره کړي الله تعالی هغه څوک چه ویریږي دالله تعالی نه په حال دنه لیدلو کښي، پس چاچه زیاتی اوکړو پس ددینه پس ده لره عذاب دی دردناک.**

صحابه کرامو دالله تعالی دمحبت او تابعدارۍ له وجي دغه ښکار پریښوده سره له دینه چه دوي په دغه وخت کښي ښکار کولو ته ډیر ضرورت لرلو، اوپه دوي باندي بل کوم نګهبان(څارونکی) هم نه وو، سوا دالله تعالی نه لیکن صحابه کرامو دالله تعالی سره ډیره مینه کوله او دالله تعالی ډیر ښه تابعداران وو.

اوهمدارنګه دطواف او جمرات ویشتلو په وخت کښي هم ازمیښت او امتحان وی، هغه داچه حاجی داحرام په حالت کښي هغه محبوب څیزونه پریښي وي، کوم چه دحاجي لپاره په اصل کښي حلال دي،

لکه خپله بي بي(ښځه) شوه او همدارنګه خوشبو وغیره، لیکن دطواف او جمرات ویشتلو په وخت کښې ازمیښت داوي، چه عام نامحرمه زنانه او سړي په دغه وخت کښې جمع وي دکومو ګډون چه اصلاً حرام دی، سره له دینه چه داهم ممکن ده چه دسړو لپاره جدا او ځان له جمرات وې، او دزنانه وو لپاره هم جدا او ځان له جمرات وې، او یا داچه یوه ورځ بیله دسړو دطواف او جمرات ویشتلو لپاره مقرروی، اوبله ورځ دزنانه وو دطواف او جمرات ویشتلو لپاره مقرروی.

اویا داچه زنانه وو ته طواف کول او همدارنګه دجمراتو ویشتل معاف وی، ځکه چه ډیره ګڼه او ازدحام وي.

اویا داچه د جمراتو ویشتل دیولوي غره طرف ته وايي، اوپه دي تنګ ځاي کښې نه وايي، ددي لپاره چه خلک دګڼې او ازدحام نه بچ شي.

(الله تعالی ښه پوهه دی) لیکن په شرعه کښې دا اعمال یعني طواف او همدارنګه دجمراتو ویشتل وغیره په ټاکلي طریقه اوپه ټاکلي ځایونو کښې ضروري دي، او ډیر کرته زنانه او نارینه هم جمع شي په یو تنګ ځاي کښې، دا ددي لپاره چه په بنده باندي امتحان او ازمیښت اوکړی شي چه دده محبت دخپل رب سره دی، اوکه نه دزنانه وو سره.

کوم چه رشتنی مؤمن بنده وي، نو دهغي زړه دالله تعالی په محبت اوذکر باندي مشغوله وي، زنانه وغیره طرف ته يې توجه نه وي، سره له دینه چه ډیره ګڼه وي، او څوک رقیب (کتونکی) ورباندي هم نه وي لیکن دامؤمن بنده دخپل طاقت برابر ځان ساتي صرف دخپل رب درضا لپاره ځکه چه مؤمن بنده ته خپل رب دهر څیز نه زیات محبوب وي.

او مؤمن بنده داحقیقت رایاده وي چه ابراهیم علیه السلام ته دخلیل (خالص) دوست درجه او مرتبه په دي وجه باندي ورکړی شوې وه، چه په هغه باندي امتحان او ازمېښت شوی وو، دخپل بچي په باره کښي په دي ځاي (دجمراتو) په خوا کښي.

هغه داچه په ابراهیم علیه السلام اول دا امتحان او ازمېښت وو چه بچي يي نه پیدا کیدل، او چه کله يي بچی (اسماعیل علیه السلام) پیداشو نوابراهیم علیه السلام ته امر اوشو چه خپله بي بي او خپل بچی په یوه شاړه ځمکه کښي پرېږدي، او خپه ترينه نه شام ته هجرت اوکړي.

او روستو ورباندي امتحان سخت شو چه کله دشام نه واپس راغلو او دخپل بچي په لیدلو سره خوشحاله شو.

نو ورته امر اوشو چه دا خپل محبوب بچی دالله تعالی په امر باندي ذبحه کړه، ابراهیم علیه السلام دي ځاي (جمرات) ته راغلو، ددي لپاره چه دخپل رب حکم او امر پر ځاي کړي، اوخپل محبوب بچی قربان او ذبحه کړي.

نو په دي ځاي کښي ورته شیطان دري کرته راښکاره شو او دوسوسي کوشش يي کولو ددي لپاره چه ابراهیم علیه السلام دخپل رب داحکم پر ځاي نه کړي، لیکن ابراهیم علیه السلام په ډېر قوي ایمان سره دشیطان وسوسي رد کړي او شیطان يي په کاڼو وویشتلو او دايي ثابته کړه چه الله تعالی دهر محبوب نه ورته زيات خوښ او محبوب دی، او بار بار يي دتکبیر اوازونه اوچت کړه، چه الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر.

**سؤال: مکه مکرمه ولي په یوه داسي زمکه کښي واقع نده چه شنکي اوفصل وغیره په کښي موجود وي؟**

که چیرته مکه مکرمه په یوه داسي زمکه کښي واقع وي چه شنکي فصولونه او نهرونه وغیره په کښي موجود وي.

نو کیدی شي(الله تعالی) ښه پوهیږي، چه دبعضي حاجیانو په نیتونو کښي به څه فرق اوخلل واقع شوی وی.

چه ایا دوي دحج سفر دخالص عبادت په نیت باندي کوي، او که نه دوي دحج سفر ددي لپاره کوي چه هلته نهرونه او ښایسته باغونه وغیره ووینی.

اوبل حکمت دادی، الله تعالی ښه پوهیږي: که چیرته په مکه مکرمه کښي دادوه صفتونه راجمع شي:

اول صفت داچه مکې مکرمې ته دخلکو زړونه میلان او شوق کوي.

او دوهم داچه که چیرته داصفت په کښي هم راجمع شي چه په مکه مکرمه کښي، باغونه اونهرونه او فصلونه وغیره هم موجود وی.

نوبیابه بعضي خلکو همیشه دحج لپاره مکې مکرمې ته سفرونه کولاي، او نورو خلکو ته به یي دحج کولو موقع او فرصت نه ورکولو.

دا دالله تعالی فضل او مهرباني ده چه دخلکو زړونه خو مکې مکرمې ته میلان اوشوق کوي، خو چه دکله دحج دادا کولو لپاره مکې مکرمي ته ورسیږي، نو ووینی چه مکه مکرمه په یوه شاړه زمکه کښي واقع ده، چه

هیڅ شنه باغونه اوفصلونه وغیره په کښې نشته، نو دحج فریضه اداکړي او بیا ترینه واپس لاړشي او نو رو خلکو ته موقع او فرست پریږدي.

په اخره کښې مونږ ددي حقیقت متعلق وایو (دالله تعالی سره خالص محبت کول)

الله سبحانه وتعالی دا نه قبلوي چه دبنده په زړه کښې دالله تعالی دمحبت سره د بل محبوب څیز محبت برابر شي، بلکه همیشه باید دبنده په زړه کښې دالله تعالی محبت دبل هر محبوب څیز دمحبت نه زیات وي.

او دیته توحید المحبة (دالله تعالی سره خالص محبت کول) وایي.

پس هرکله چه ته پوهه شوي چه د الله تعالی سره خالص محبت کول دایو عظیم اولوي مقصد دی، نو ددي مقصد دحاصلولو لپاره په حج کښې ډیري دعاګانې غواړه چه دامقصد الله تعالی درپه برخه کړي، او له هغه څیزونو نه تاته نجات درکړي، کوم چه تا له دي مقصد نه محرومه وي.

پس که دادعا ستا قبوله شوه نو مبارک دي وي ستا لپاره.

# دحج په مقصدونو کښي دوهم مقصد

دالله تعالی تعظیم کول دي، اوپه زړه کښي دالله تعالی لویې راوستل دي.
الله تعالی فرمايي:

﴿ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى ٱلْقُلُوبِ﴾ [الحج: ٣٢]

**دا یا د کړئ او چا چه تعظیم اوکړو دخاص نخو چه الله تعالی مقرر کړي دي، نو یقینا دا تعظیم داخلاص دزړونو دی.**

(الشعائر والمشعر) معنی هر هغه څه چه دالله تعالی په عظمت او لویې او په دي چه الله تعالی غني او بي پروا ذات دی دلالت کوي، او دمخلوق په فقر او عاجزۍ باندي دلالت کوي، دیته (الشعائر والمشعر) وايي، یعني دالله تعالی ددین نښي.

او ددي وضاحت په زمکه دمزدلفه کښي په ډیره ښه توګه سره تر سترګو کیږي، پاکي ده هغه ذات لره چه ټول مخلوق ورته عاجزې کوي.

که څوک دحاجیان وضعي او شتون ته اوګوري په عرفه کښي له یو جهته، او همدارنګه ددوي مقائسه اوکړي په مزدلفه کښي له بل جهته نو ددوي په مابین کښي به فرق محسوس کړي، هغه داچه کله حاجیان په عرفه کښي وي، نو فرق محسوس کیږي ددوي په مابین کښي او هغه داچه دمالداره حاجیانو خیمي او خوراکونه او سورلۍ وغیره متفاوتي او جلا وي دبعضي نورو حاجیانو دخیمو

او خوراکونو اوسورلو وغیره نه، نو په منی او عرفه کښي به ته اووینې چه فقیر دسړک او لاري په خواو شاه کښي وخت تیره وي، او مالداره حاجي په خپله خیمه او سازوسامان کښي وخت تیره وي.

حتی چه ډیر کرت بعضي خلک چه ددي مالداره خلکو دا حالات اوګوري، نو رب العالمین د عظمت او لویئ نه غافله شي.

په همدي مهال (الله تعالی) ښه پوهیږي خو د مزدلفي بعضي احکام ددي لپاره مشروع شوي، چه د حاجیان په مابین کښی دغه فرق او توپیر (دمالدارئ وغیره) ختم شي، عظمت او لوئي یواځي دالله تعالی پاتي شي، الله تعالی فرمائلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ﴾ [فاطر: ١٥]

**ای خلکو تاسوو ټول محتاج يي، الله تعالی ته او الله تعالی خاص هغه بي حاجته ستائیلی شوی دی.**

که دمزدلفي په احکامو باندي غور او فکر اوکړي نو پوهه به شي، چه دمزدلفي احکام ددي لپاره مشروع شوي دي، چه دحاجیانو په مابین کښي دا تفا وت او توفیر له مینځه ولاړ شي، هغه دا سي چه په مزدلفه کښي ټول حاجیان دشپي په مهال راټولیږي، نه ورسره خیمي وي او نه ورسره نور سامانونه اولباس وغیره وي، بلکه ټول حاجیان داحرام په لباس کښي او دفقیرانو په څیر د مزدلفي په زمکه باندي ارام کوي او ویده کیږي، او خوراک يي هم دفقیرانو په څیر وي.

بلکه ته به ویني دوي لره چه ټول مالداره او فقیران تور او سپین به په صفونو کښي ولاړ وي، ددي لپاره چه خپل قضاء حاجت اوکړي.

او ټول په یورنګ داحرام په لباس کوي، او مالداره دفقير نه هيڅ توفير نه لري، دا ټول ددي لپاره چه دوي دا منظر ووينې او په دي ښه پوهه شي، چه لويئ او عظمت يواځې دالله تعالى لپاره دى.

❁❁❁



# دحج په مقصدونو کښي دريم مقصد

دالله تعالی نه امید ساتل دي، الله تعالی فرمائلي دي:

﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحۡذُورٗا ﴾ [الإسراء: ٥٧]

**هغه کسان چه دوي ورته رامدد شه وايي، غواړي هغوي خپل رب ته نيږدي والی، چه کوم يو ددوي نه زيات نيږدي وي او اميد لري دوي درحمت دهغه او ويره کوي دعذاب دهغه نه.**

دحج دا اعمال په داسي کيفيت او طريقه مشروع شوي دي، چه دحاجيانو په مينځ کښي توفير او تفاوت ختموي، او ټول حاجيان په يو حال باندي وي، مالداره وي که فقير وي، امر وي، او که مامور وي ټول په يو حال باندي وي، او دايو شان والی ددوي په مينځ کښي د عرفي او مزدلفي په مهال ډيربنه واضح اوښکاره وي چه دا حالت په عام ژوند کښي ډيرکم او ناشنا وي.

که په عرفه او مزلفه کښي دټولو حاجيانو په دي احوالو باندي سوچ اوکړي شي نو دا حقيقت واضح کيږي، چه په دي مهال باندي، ټول حاجيان په ډيره عاجزئ سره هغه ذات ته متوجه وي، چه دهغه خزاني نه ختميږي، او نعمتونه يي بيشماره دي، او نشي کمزوری کولی ده لره هيڅ څيز نه په زمکه اونه په اسمان کښي، او په دي ځايونو کښي ټولو حاجيانو الله تعالی ته دعاجزئ لاسونه پورته کړي وي، مالداروي که

فقیر وي، ټول دالله تعالی په وړاندي په عاجزۍ سره ولاړ وي، دا ددي لپاره چه ټول په دي اعتراف او یقین اوکړي، چه یواځې الله تعالی ته توجه پکار ده، او یواځي دهغه نه تمه کول پکار ده، او دیته توحید د(رجا) وایي، یعني یواځي دالله تعالی نه امید اوتمه کول.

# دحج په مقصدونو کښي شلورم مقصد

دالله تعالی نه خوف او ویره کول دي، الله تعالی فرمائلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ يُؤۡتُونَ مَآ ءَاتَواْ وَّقُلُوبُهُمۡ وَجِلَةٌ أَنَّهُمۡ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ رَٰجِعُونَ ٦٠ أُوْلَٰٓئِكَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَهُمۡ لَهَا سَٰبِقُونَ﴾ [المؤمنون: ٦٠-٦١]

**او هغه کسان چه ورکوي، هغه څه چه ورکوي، او زړونه ددوي ویره کونکي وي، چه یقینا دوي خپل رب ته به ورګرځي. دغه کسان ورزغلي نیکو کارونو ته او دوي هغي ته دیو بل نه وروړاندي کیږي.**

که څوک په شرعي نصوصو کښي اوګوري او په واقع کښي فکر اوسوچ اوکړي، نو پوهه به شي چه دحج او دالله تعالی نه ویره او خوف ددي دواړو په مابین کښي ډیر ژور تعلق دی، نیزدي ده چه دیوبل سره لازم وي.

ددي وضاحت هغه وخت کیږي، چه دالله تعالی په کتاب او په سنت نبوي او په واقع کښي شوچ اوکړي شي.

دالله تعالی په کتاب کښي سوچ کول: محترمه حاجي وروره سورت حج تلاوت کړه، او بیا په کښي سوچ او فکر اوکړه، تاته به واضحه شي چه داسورت په داسي ایاتونو باندي شروع شوي، کومو کښي چه دالله تعالی نه ویره او خوف ذکردی، بلکه په دي ایاتونو کښي ډیر سخت دویري انځور او هغه سخت حالات ذکر شوي دي کوم چه په انسان باندي راتلونکي دي. لکه الله تعالی فرمائلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمْۚ إِنَّ زَلۡزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَيۡءٌ عَظِيمٞ ١ يَوۡمَ تَرَوۡنَهَا تَذۡهَلُ كُلُّ مُرۡضِعَةٍ عَمَّآ أَرۡضَعَتۡ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٞ﴾ [الحج: ١-٢]

**اى خلكو ويره كوي د رب خپل نه يقينا زلزله دقيامت يو ځيز هيبتناك دى. په هغه ورځ چه اوبه وينى تاسو هغي لره چه غافله به شي هره پئې وركونكې دهغه بچي نه چه پئې وركوي هغه لره، او اوبه غور ځوي هر حمل والا حمل خپل او ويني به ته خلكو لره نشه، او حال دادى چه دوي نه دي نشه (په څكلو دنشه كونكي څيز سره) او ليكن عذاب دالله تعالى سخت دى.**

دا ددي سورت اولني اياتونه دي، چه دحج مقصدونه په كښې بيان شوي دي، اى محترمه وروره دحج او خوف (دالله تعالى نه ويره كول) آيا ددي په مينځ كښې تعلق او يوالى شته دى؟

بيا په سنت نبوي كښې سوچ اوكړه، نبي كريم صلى الله عليه وسلم دحج باره كښې فرمائي: چه حج كول جهاد دى، لكه نبي كريم صلى الله عليه وسلم ښځو ته فرمائلي دي:

**«عليكن جهاد لا قتال فيه، الحج والعمرة».**

تاسو ته دداسي جهاد حكم دى چه قتال(جنګ) په كښې نشته، چه هغه حج او عمره ادا كول دي.

او بيا سوچ او فكر اوكړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم او دهغه دصحابه كرامو په هغه سفر باندي چه هغوي كوشش كولو د (حديبيه) په كال باندي چه دحرم زمكې ته ورسيږي او عمره ادا كړي، نو دقريشو

مشرکین د مسلمانانو مخي ته را اووتل او دعمرې د ادا کولو نه يې منعه کړه، او خلک يې د دوي جنګ ته راوبلل، او صحابه کرامو هم دوني لاندي درسول الله صلی الله علیه وسلم سره په جنګ کولوباندي بیعت اوکړو، او بیا په دي باندي صلح اوشوه چه مسلمانان به په راتلونکي کال باندي عمره ادا کړي.

اومسلمانانو داشرط هم مقرر کړو چه په راتلونکي کال کښي به داحرام په حالت کښي خپلي توري هم له ځانه سره راوړي، دا ددي وجي نه چه هسي نه چه دقریشو مشرکین غدر (دهوکه) اونه کړي، نو په دي عمره کښي خوف او ویره وه.

او بیا په واقع کښي سوچ او فکر اوکړه، که څوک د حج په اړوند باندي سوچ اوکړي نو درسول الله صلی الله علیه وسلم دزماني نه تر نن ورځ پوري په هره زمانه (اوپیړي) کښي دحج په اداکولو کښي خوف او ویره شته، هغه داسي چه کله دقریشو ویره ختم شوه نو لږه زمانه بعد په هغه لارو کښي چه مکې مکرمې ته رسیدلي وي، غله او ډاکوان پیداشوو، او دي بهیر تر دریالس (۱۳) کلونو پوري جریان لرلو، حج او عمري ته تلونکی به داسي وو لکه چه ورک شوی وی، او دحج یاعمري نه واپس راتلونکی داسي وو لکه چه دوباره پیداشي.

او چه کله خلکو ددي ډاکوانو د مشلکلاتو دختمولو کوشش اوکړو او دامشکل ختم شو، نو بیا حاجیان ډیر کلونه ددي مشکل سره مخامخ وو، چه په خیمو کښي به اور لګیده او چه کله خلکو ددي مشکل دختمولو کوشش اوکړو نوبیا دنورو مشکلات سره مخامخ شول، هغه دا چه مظاهرې شروع شوي، او بیا دهماکې اوشوي او بیا د جمراتو ویشتلو په وخت کښي

حاجیان د بعضي مشکلات سره مخامخ شول، او بیا دسیلابونو مشکلات راغلل، او بیا عام نور مرضونه وغیره هم راغلل، تر نن پوري چه خلک دویري یوه دروازه بنده کړي، نو بله دویري دروازه کولاو شي.

که په دي موجوده حالاتو کښي هم یو کس دحج د اداکولو تکل او اراده اوکړي، نو داول وخت نه په خپل زړه کښي ویره محسوسه وي تر دي پوري چه خپل اهل ته واپس راشي.

پس ګرانه او محترمه وروره که دحج داداکولو او د ویري په مابین کښي دومره ژور تړاوي، نو په دي کښي به څه حکمت وي.

الله تعالی ښه پوهیږي، خو کیدي شي، چه مقصد او هدف ددي نه هغه داوي، چه ددي مشکلاتو باوجود بیا هم د الله تعالی دا بنده ګان دحج داداکولو لپاره تیاریږي، نو ددوي په زړونو کښي دخپل رب خشیت او ویره نوره هم راسخه او مظبوطه شي.

❁ محترمه وروره هغه داسي که ته دیو حاجي نه تپوس او پوښتنه اوکړې، چه ایا ته دهغه مشکلاتونه خبر نه یي کوم چه په مخکښي کلونو کښي مینځ ته راغلي وو، او دهغي دوجي نه ډیر خلک مړه شوي هم وو، او کیدی شي چه په دي کال کښي هم مشکلات رامینځ ته شي؟

نوهغه به تاته خامخا په جواب کښي اووایي چه هو زه ددي نه خبر یم.

❁ او که بیا تري نه پوښتنه اوکړي، چه ددي مشکلاتو باوجود څه شی په تا باعث دی، چه ته یي د حج سفر ته تیار کړی یي؟

نو هغه به تاته خامخ په جواب کښي اووایي، چه دالله تعالی هغه

وعید(ویره ورکول) چه هغه چا ته يې ورکړی دی، چه طاقت لري او دحج فریضه نه اداکوي، نو دغه وعید د الله تعالی زما په زړه کښې دټولو ویرو نه زیات لوي دی.

او داد حج په مقصدونو کښې یو لوي مقصد دی، هغه داچه دبنده ګانو په زړونو کښې دیو الله تعالی نه ویره اوخوف پیداشي.


بعض أخطاء الحجاج
Some Pilgrims Mistakes
DHL

# دحج په مقصدونو کښي پنځم مقصد

په الله تعالی باندي توکل کول دي. لکه الله تعالی فرمائلي دي:

﴿ وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوْمِ إِن كُنتُمْ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ ﴿٨٤﴾ فَقَالُواْ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ [يونس: ٨٤-٨٥]

**او اوئیل موسی علیه السلام ای قومه څما که تاسو ایمان راوړی وي په الله تعالی پس خاص په الله تعالی ځان اوسپاری که تاسي حکم منونکي ئې.**

**پس اوئیل دوي خاص په الله تعالی مونږ ځان سپارلی دی ای ربه زمونږه مونږ مه ګرځوي ازمیښت دقوم ظالمانو لپاره.**

ای مسلمانه وروره: کله چه ته په خپل ګلي اوطن کښي يئ او خپلوان هم درسره وي او په خپل کور کښي په امن يئ او سورلي (ګاړی) وغیره هم لري او په بنک کښي درسره پیسي هم موجود وي، او دمستقبل نه مطمئن (بي غمه) يئ نو بیا خو دا ډیره اسانه ده، چه داګمان اوکړئ چه ته په الله تعالی باندي توکل کونکی يئ، لیکن پوره حقیقت معلوم نه دی، چه آیا ته یقیني په الله تعالی باندي توکل کونکی يئ او که په دي اسبابو د ژوند باندي؟؟؟

لیکن حاجي چه کله دحج د ادا کولو لپاره دا ټول سهولتو نه پریږدي، دا ددي واضح دلیل دی، چه دا حاجي په الله تعالی باندي توکل کونکی دی.

ددي وضاحت هغه داسي کیدی شي: که ته دحاجیانو په احوالو باندي سوچ اوکړې کله چه دوي په منی کښي په خپلو خیمو کښي راجمع وي، او دوي په منی کښي دلاري په طرفونو باندي هم موجود وي، او منی یوه شاړه (کنده) دشته ده.

او بیا ته له دوي نه تپوس او پوښتنه اوکړې: چه تاسو د منی په دي شاړه کنده کښي موجود یئ، کیدي شي چه تاسو د ډیرو مشکلاتو او تکلیفونو سره مخامخ شئ، د مثال په توګه (الله مکړه) که ډیر سیلابونه راشي، نو کیدی شي، حاجیان او دهغوي دغه خیمي له مینځه یوسي. او یا د اسمان له طرفه تندرونه راشي، او یا سخته ګلې وغیره اوشي، نو ایا دخیمو دغه چتونه دحاجیانو دحفاظت لپاره کافي دي؟؟ او که چیري داسي یو مرض منتشر (خور) شي کوم چه له یو انسان نه بل ته منتقل کیږي، نو ایا داسي امکانیات شته چه ددي مرض مخنوی اوکړي؟او همدارنګه که فسادیان خلک اوغواړي چه حاجیانو ته څه ضرر او تکلیف اورسوي نو ایا حاجیان کولاي شي، چه دخپلو ځانونو نه دفاع اوکړي؟بلکه که ته دحاجي نه دهغه دلاري متعلق پوښتنه اوکړي، کله چه هغه دخپل وطن نه دحج د اداکولو لپاره راځي، او بیا واپس خپل وطن ته ځي، ایا په دي لارو کښي دمختلفو خطرونو اندیښنه موجود ه نه وي؟

لکه په هوا کښي د جهاز راغورځیدل، او په دریابونو کښي دکشتیو ډوبیدل، او همدارنګه د ګاړو حادثې وغیره شوي، کوم چه اکثر واقع کیږي.

خو کله چه ته دحاجیانو نه ددي ټولو خطرونو باره کښي پوښتنه اوکړي، دهغوي جواب به تاته داوي، چه هو داټول خطرونه اوتکلیفونه پیش راتللی شي، بلکه داخطرونه خامخا واقع کیږي، کله چه الله تعالی

اوغواړي، ځکه چه د انسانانو دا کمزوري اسباب هيڅ اثر نلري کله چه الله تعالی ددي خطرونو دواقع کيدلو اراده اوکړي،او چه کله ته ددوي نه د دوهم ځل لپاره پوښتنه اوکړي، چه هرکله دا خطرونه او تکليفونه پيش راتللی شي، نو ستاسو توکل (ځان سپارل) په چا باندي دی، او په چا باندي تاسو اعتماد کوي؟

نو دټولو حاجيانو جواب به هغه داوي، چه مونږ يواځي په الله تعالی باندي توکل او اعتماد کوو.

کيدی شي چه دا عقيده لرل رشتنوالی وي، په توحيد توکل کښي، په الله تعالی باندي، الله تعالی ښه پوهه دی.



# دحج په مقصدونو کښي شپږم مقصد

الله تعالی ته روجوع کول دي. لکه الله تعالی فرمائلي دي:

﴿ وَأَنِيبُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَأَسۡلِمُواْ لَهُۥ مِن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴾

[الزمر: ٥٤]

**او اوګرځئ په توبه کولو سره خپل رب ته او تا بع شي دحکمونو دهغه مخکې ددینه چه رابه شي تاسوته عذاب بیابه مدد نشي کیدی ستاسو.**

دحج لپاره مالي او بدني قوت او قدرت شرط دی، ددي له وجي نه اکثر حاجیان مالي او بدني قوت او قدرت لري، خو بیا هم ددي مالي او بدني قوتونو سره حاجیان دحج په ټولو مراسمو کښي ډیر دعاجزۍ په حالت کښي وي، خصوصا دوي دعرفات په میدان کښي، او دطواف په دوران کښي، او په صفا او مروه کښي ډیر په عاجزۍ سره او د ویري په حالت کښي ولاړ وي.

په خپلو ګناهونو اقرار کوي، او دخپل تقصیر او کمي اعتراف کوي، او په خپلو ګناهونو پښیمانه وي، او الله تعالی ته یي خپل ځان سپارلی وي، او دخپل رب نه دا امید اوتمه کوي، چه دده هغه ګناهونه او کمي معاف کړي کوم چه دده نه مخکې شوي دي دغفلت دوجي نه.

او داحالت دحاجیانو رشتوني رجوع ده الله تبارک وتعالی ته الله تعالی ښه پوهه دی.

- **دلته يو سؤال او پوښتنه ضروري ده: هغه داچه دحاجيانو دا حالت او عاجزي او رجوع چاته ده؟**

- **ايا دوي ته داحکم د زوراورو انسانانو لخوا شوی دی، ايا دوي ته دمالداره انسانانو لخوا دڅه بدلې د ورکولو وعده شوي، چه ددوي زړونه ورته نرم او مائله شوي دي، او دسترګونه يې اوښکې تويږي، ايا دا ددي وجي نه چه دوي دهغوي نه ويرېږي اويا دهغه څه طمع او اميد کوي کوم چه دهغوي سره دي؟**

نه هيڅ کله داسي نه ده، بلکه دا خالص توحيد دانابت دی رب العالمين ته، الله تعالی ښه پوهه دی.

# دحج په مقصدونو کښي اوم مقصد:

الله تعالی ته عاجزي کول دي، لکه الله تعالی فرمائلي دي:

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَخۡبَتُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ [هود:٢٣]

**يقينا هغه کسان چه ايمان يي راوړی دی، او عملونه کوي په طريقه دپيغمبر او عاجزي کوي رب خپل ته دغه کسان جنت والا دي، دوئ به هغي کښي هميشه وي.**

داخبات معنی: داخبات معنی ده الله تعالی ته عاجزي کول او دالله تعالی هر حکم منل او هغه ته تسليميدل، او دالله تعالی بنده ګي کول، او دهغه په ربوبيت او عظمت (لويي) باندي اقرار کول، او په خپل ضعف او کمزورۍ باندي اعتراف کول، او همدارنګه الله تعالی ته ځان محتاجه ګڼل.

د اخبات لفظ په قران کريم کښي په دري ځايونو کښي راغلی دی، يو په سورت هود کښي کوم چه مخکي ذکر شو، او دوه ځايه په سورت حج کښي، لکه الله تعالی فرمائلي دي:

﴿فَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَلَهُۥٓ أَسۡلِمُواْۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُخۡبِتِينَ ﴾ [الحج: ٣٤]

**ځکه چه حقدار دبنده ګۍ ستاسو يو ذات دی، پس خاص هغه ته اخلاص کوئ، او زيری ورکړه عاجزي کونکو ته.**

او همدارنګه الله تعالی فرمائلي دي:

﴿وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوا۟ بِهِۦ فَتُخْبِتَ لَهُۥ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ [الحج: ٥٤]

**دي دپاره چه يقين اوکړي هغه کسان چه علم ورکړی شوی دی، چه داحق دی دطرف د رب ستانه، نو ايمان به راوړي په دي باندي نو ښه نرم به شي ديته زړونه ددوي او يقينا الله تعالی رسوي مؤمنانو لره لاري نيغي ته.**

**۞ ولي لفظ داخبات دوه کرته په همدي سورت حج کښي ذکر شوی دی؟**

دا ځکه چه دحج احکام دهغه عبادتونو څخه دي، په کومو کښي چه بنده ګان خپل رب ته ډيره عاجزۍ کوي، او ورته تسليمېږي (الله تعالی ښه پوهه دی).

دمثال په توګه که ته داکثرو حاجيانو نه دحج دهغه اعمالو باره کښي پو ښتنه اوکړي کوم چه دوي په حج کښي ادا کوي لکه عرفات ته تلل، او په مزدلفه کښي شپه تيره ول، او همدارنګه جمرات ويشتل وغيره شو، دا اعمال حاجيان په حج کښي په ډير حرص او اهتمام سره ادا کوي، نو که پو ښتنه ترينه اوکړي، چه دا اعمال دڅه لپاره مشروع شوي دي، او ددينه څه مقصد دی، او ته يي ولي ادا کوي؟

نو په جواب کښي به واوري چه دا اعمال ادا کول صرف دالله تعالی بندګي کول دي او بس.

او ديته اخبات وايي (الله تعالی ته عاجزي کول او هغه ته تسلميدل) هغه دا چه بنده په پوره اطمنان او کوشش سره يو عمل پر ځاي کوي، ددي

وجي نه چه الله تعالى ورته ددي امر کړی دی، اګر که ده ته ددي عمل دپوره حکمتونو تفصيلي معلومات نه وي، پس ده لره همدومره کافي ده چه دا عمل پر ځاي کول دالله تعالى عبادت دی، اودا په دي سره د خپل رب رضا حاصلوي.

او که په دي عمل باندي ورته يو انسان امر کړی وی، نو ده به خامخا دهغه نه پوښتنه کړی وی او بحث به يي ورسره کړی وی، چه دا کار زه ولي اوکړم، يا ددي کار نه دا بل کار ښه دي، او يا به دا ووايي، چه زه په دي کار باندي قانع نه شوم!

ليکن پاکي هغه ذات لره ده چه ټول زړونه ورته عاجزي کوي.

ددي بهترين او ښا ئسته مثال دعمر بن الخطاب رضى الله عنه تواضع او عاجزي ده، هغه حجر اسود کاڼي ته مخامخ شو، او داسي يي اوفرمايل:

**«أما والله، إني لأعلم أنك حجر، لا تضر ولا تنفع ولولا أني رأيت النبي صلى الله عليه وسلم استلمك ما استلمك»**[1].

**قسم په الله تعالى، چه زه ښه پوهه يم چه ته يو کاڼى يي نه چاته ضرر او تکليف رسولى شي، او نه چاته څه نفع او فائده رسولى شي، او که ما نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه وى ليدلى چه ته يي ښکل کړی وې، نو ما به هم نه وى ښکل کړی.**

بعضي حاجيان داسي وي، چه په خپلو ښارونو کښي د مزي او خوشحالۍ ژوند کوي، او دفقيرانو مسکينانو او بي وزله کمزورو خلکونه لري او جدا وي،

(١) صحيح البخاري رقم: ١٦٠٥.

بعضي خو لا داسي هم وي، چه په خپلو بنګلو کښي دخوشحالۍ نه ډک ژوند کوي، او دعامو خلکونه جدا او لري وي، خو چه کله حج ته را وبلل شي او دلته د فقیرانو مسکینانو او بي وزله کمزورو خلکو سره یو ځاي شي، او ډیر کرت د ددوي دخوراک په څیر خوراک اوکړي، او ددوي دخوب (اوده کیدلو) په شان خوب اوکړي، خصوصا په مزدلفه کښي، او د دوي سره یوځاي په طواف سعي او جمرات ویشتلو په وخت کښي ولاړ وي، او په بد بوي او تیل(ګڼه) وغیره باندي صبر کوي، نو دخپل ځان څخه پوښتنه اوکړي، چه ته څه شي دحج دي احکامو اداکولو ته تیار کړي؟ او ددي احکامو تفصیلي حکمتونه ورته معلوم نه وي.

او همدارنګه دا به هم وایي، چه دڅه لپاره یي هغه دسهولتونو ژوند پریښود او دلته د فقیرانو او مسکینانو نه سره یو ځاي شو؟

ایا دوي په دي حج ادا کولو کښي دکوم بشر (انسان) نه مجبوره دي؟ نو جواب به دا وي، چه هر ګیز نه، یعني دوي په ادا کولو ددي فریضه کښي دهیڅ چا نه مجبوره نه دي، بلکه دا الله تعالی ته تواضع او عاجزي ده.

او دا خالص توحید دی، د تو اضع او عاجزۍ د الله تعالی لپاره. (الله تعالی ښه پوهه دی).

# دمکې مکرمې خصوصیات (بیلګې)

دابراهیم علیه السلام په ژبه الله تعالی فرمایي:

﴿ رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ وَٱرۡزُقۡهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُونَ ﴾ [إبراهيم: ٣٧]

**ای ربه زمونږ یقینا ما اباد کړي دي بعضي داولاد خپل نه په کنده بې فصله (شاړه) کښې ستا دکور عزتمند په خوا کښې،**

**ای ربه زمونږ ددي لپاره چه پا بندي اوکړي دلمانځه، پس اوګرځوه زړونه دبعضي خلکو چه مائل شي د دوي طرف ته، او روزي ورکړې دوي لره، د قسماقسم غلونه ددي لپاره چه ستا شکر اوکړي.**

که څوک دمکې مکرمې په تاریخ کښې غور او فکر اوکړي او ددي په فضیلتونو باندي سوچ اوکړي، او په هغه واقعاتو او حالاتو باندي هم سوچ اوکړي کوم چه په مکه مکرمه کښې مینځ ته راغلي دي، نو خامخا به دي نتیجي ته ورسیږي، چه الله تعالی دي ښار مکې مکرمې ته څه خاص فضیلتونه ورکړي دي، چه دغه فضیلتونه یې بل کوم ښار ته نه دي ورکړي.

او هغه داسي چه ددي ښار لپاره څه خاص فقهي احکام دي، کوم چه دنورو ښارونو سره هیڅ تعلق نلري، مثلا په دي ښار کښې دحرم زمکه

ده، چه په هغي کښي ښکار کول حرام دي، او همدارنګه ددي حرم اوني او بوټي پريکول او په دي کښي ورک شوی څيز راخستل هم جائز نه دي، او ددي نه علاوه نور فقهي احکام هم لري.

د مکې مکرمې د خصوصي فضيلتونو يو فضيلت دادی، چه ددي ښار سره الله تعالی دعامو خلکو په زړونو کښي مينه ا ومحبت پيدا کړی دی، ددي وجي نه دعامو خلکو زړونه دي ښار ته ميلان کوي.

او بل دا چه په دي ښار کښي الله تعالی ډير برکتونه اچولي دي، همدارنګه ددي ښار په مد او صاع (پيمانه) کښي هم الله تعالی برکتونه اچولي دي، ځکه چه ابراهيم عليه السلام دالله تعالی نه دا دعا غوښتلې وه.

او همدارنګه دمکې مکرمې دخصوصي فضيلتونه داهم ده چه چا په دي کښي دظلم او ګناه اراده اوکړه نو الله تعالی به دردناک عذاب ورکوي، لکه الله تعالی فرمائلي دي:

﴿وَمَن يُرِدۡ فِيهِ بِإِلۡحَادِۭ بِظُلۡمٖ نُّذِقۡهُ مِنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ﴾ [الحج: ٢٥]

**چاچه اراده اوکړه په هغه کښي دکږ ليچ په ظلم سره اوبه څکوو هغه ته د درناک عذاب نه.**

دمکې مکرمې دا خصوصي فضائل معلوم دي او په کتابونو دعلماو کښي ليکل شوي دي، او دا ځمکه په ټولو ځمکو کښي، الله تعالی ته ډيره غوره ځمکه ده.

که څوک د مکې مکرمې باره کښي سوچ او فکر اوکړي، نو دا حقيقت به ورته هم معلوم شي، چه الله تعالی دي ښار دمکې ته يو بل خاص فضيلت داهم ورکړي دی، چه په دي ښار کښي الله تعالی اصلي او بنيادي نعمتونه،

بنده ګانو ته هم ورپه برخه کوي، لکه نعمت دهدايت (لار ښودنه) او نعمت د علم صالح (فايده مند علم) او نعمت د عمل صالح (نيک عمل) او نعمت د حکمت (د دين پوهه) او همدارنګه نعمت د عبادت او بنده ګي او دهغي مرتبي، لکه مرتبه د ايمان او مرتبه د احسان وغيره، داټول نعمتونه الله تعالی په دي ښار دمکه مکرمه کښي، خپلو بنده ګانو ته ډير ور په برخه کوي.

اګر که دانعمتونه الله تعالی په نورو ځايونو کښي هم خپلو بنده ګانوته ور په برخه کوي.

او همدارنګه که څوک د الله تعالی نه دا نعمتونه په دي ښار دمکه کښي، اوغواړي نو الله تعالی د هغه دا دعا ډيره زر قبلوي، اګر که الله تعالی د خپلو بنده ګانو دعا ګاني هر ځاي کښي قبلوي، (الله تعالی) ښه پو هه دی.

د مثال په توګه د الله تعالی نبي ابراهيم عليه السلام چه کله دمکې مکرمې نه بهر وو، نو الله تعالی ورته نعمت د اسلام او د ايمان او داحسان ور په برخه کړو، او همدارنګه نعمت د نبوت او رسالت (پيغمبري) يي هم ور په برخه کړه، ليکن کله چه الله تعالی اوغوښتل چه ابراهيم عليه السلام خپل خليل (خالص دوست) جوړ کړي، نو دي ښار د مکې مکرمې ته يي را اوغوښت، او دلته يي ورباندي سخت ازميښتونه اوکړل او مرتبه د خليل ته يي اورسوو، او دا ډيره لويه مرتبه ده، (الله تعالی) ښه پو هه دی.

او همدارنګه زمونږ د نبي محمد صلی الله عليه وسلم زړه هم ددي نعمتونو نه ډک شوی وو، او ډير لوې ازميښتونه ورباندي شوي وو، او بيا روستو په همدي ښار دمکه کښي ورته مرتبه د خليل هم ملاو شوه، او بيا ورته امر اوشو چه دمديني ښار ته هجرت اوکړي، (الله تعالی) ښه پو هه دی.

ددي دوجي نه د حج په مقصونو کښي داهم ده چه هر مسلمان بايد دحج د ادا کولو لپاره دي ښار دمکې مکرمې ته تشريف راوړي، او دلته دا يو څو ورځې شپې دخپل رب په عبادت او بنده ګۍ کښي تيري کړي، او دا ايماني نعمتونه ورته حاصل شي.

ځکه چه په دي ښار دمکه مکرمه کښي دالله تعالى نعمتونه ډير ښکاره کيږي.

که حاجي د مکې مکرمې په دي خصوصي فضيلت کښي سوچ او فکر اوکړي، نو د الله تعالى نه به ډيري دعا ګاني اوغواړي، چه ده ته دا ټول ايماني او دنياوي نعمتو نه ور په برخه کړي، او ده ته د عبادت دټولو مرتبو توفيق ورکړي.

او دا څه لري خبره نه ده چه الله تعالى دده دا دعاګاني په دي لنډ سفر دحج کښي قبولي کړي، او دده په علم حکمت او تقوى او نيک عمل کښي زيات والى راولي، او همدارنګه دده درجي اوچتي کړي.

هغه داچه دا اسلام ايمان او احسان ټولي مرتبي ورته ورپه برخه کړي.

او دالله تعالى قانون په ايماني نعمتونو کښي دادى، چه داهغه وخت خپل بنده ته ورکوي، چه کله ورباندي امتحان او ازميښت اوکړي.

ددي دوجي نه په ابراهيم عليه السلام باندي ازميښتونه سخت شول کله چه د عراق او شام نه واپس مکې مکرمې ته راغلو.

او همدارنګه په محمد صلى الله عليه وسلم باندي هم هغه ازميښتونه ډير سخت وو کوم چه په مکه کښي، ورباندي تيريدل.

او دا ازمیښتونه په ابراهیم علیه السلام، او محمد صلی الله علیه وسلم باندي، ددي لپاره سخت شو.

چه الله تعالی دویته مرتبه د خلت (خالصه دوستي) ورکړي (الله تعالی ښه پو هه دی.

ددي دوجي نه په حاجیانو باندي ازمیښتونه سخت کیږي کله چه دوي مکي مکرمي ته راشي، ددي لپاره چه الله تعالی دویته هغه لویه ډالي ورکړي، دکومي چه دوي دالله تعالی نه امید لري، خو په دي شرط چه دوي دخپل رب نه ویره اوکړي او دهغه لپاره صبر اوکړي، ددي وجي نه الله تعالی فرمائلي دي:

﴿فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ لِمَنِ ٱتَّقَىٰ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾ [البقرة: ٢٠٣]

**پس چاچه تلوار اوکړو په پوره کولو د دؤو ورځو کښي، پس نیشته ګناه په ده باندي، او چاچه روستو کړو ویشتل دریمي ورځي ته، پس نیشته ګناه په ده باندي، دا هغه چا لره چه ویره کوي دالله تعالی نه، او پوهه شئ چه تاسو به خاص هغه ته ورجمع کړی شئ.**

دحج په احکامو کي دا معلوم حکم دی، چه چا تلوار اوکړو یعني د ذالحجي دمیاشتي (۱۱) (۱۲) باندي یي ویشتل د جمراتو اوکړل او بیا غواړي چه د منی نه اوځي نو په ده هیڅ ګناه نیشته، ځکه چه په ده باندي الله تعالی دا تخفیف (اساني) کړیده.

لیکن هغه کس چه (۱۳) ورځي ته هم پاتي کیږي، دهغه باره کښي دا ګمان کیده چه الله تعالی دهغه باره کښي داسي اوفرمائي: هغه کس چه

دریمې ورځ ته پاتي شو دهغه لپاره ډیر لوي اجر دی، لیکن په دي ایت کریمه کښې الله تعالی دهغه کس لپاره چه دریمي ورځي ته پاتي کیږي، شرط د تقوی، (دالله تعالی نه ویره کول) زیاتي کړو.

﴿لِمَنِ اتَّقَىٰ﴾

د مفسرینو دیو قول مطابق په دي ایت کریمه کښې دا شرط دتقوی صرف هغه کس ته راجع دی، کوم چه دریمي ورځي ته پاتي کیږي، په دي کښې حکمت دادی (الله تعالی ښه پوهه دی) چه په دریمه ورځ به هم په ده باندي ازمیښت اوشي، نعمتونه به ورته الله تعالی هم زیات ور په برخه کړي.

نو څوک چه دریمي ورځي ته پاتي شو، ده ته به الله تعالی ډیر نعمتونه ورکړي، خو د ازمیښت او امتحان نه روستو. (الله تعالی ښه پوهه دی).

الله تعالی فرمائلي دي:

﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ﴾

[آل عمران: ١٤٢]

**ایا ګمان کوي تاسو، چه داخل به شئ جنت ته، او تر اوسه پوري الله تعالی نه دي ښکاره کړي مجاهدین ستاسونه، او نه دي ښکاره کړي صبر ناکولره.**

❀❀❀

# خاتمه

## بیابه څنګه خپل ژوند تیره وي دحج نه وروستو؟

روستو ددینه چه په دي لنډ او مختصر بحث کښې مو دحج لوي مقصدونه ذکر کړه، مناسب ده چه په دي اخري بحث کښې سوچ او فکر وکړو او دهغه څه نه چه مخکښې مو دهغي یادونه اوکړه فایده واخلو، نو دالله تعالی په توفیق سره وایم:

حاجي وروره... راشه سوچ او فکر اوکړه، هغه ښکار کوم چه صحابه کرامو ته ډیر نیږ دي راتللو دحج په وخت کښې خو دغه ښکار کول حرام وو، په صحابه کرامو باندي، او همدارنګه په حاجي باندي داحرام په حالت کښې خپلي بي بي (ښځه) ته نیز دي کیدل هم حرام دي.

نو همدارنګه نارواه تصویرانو ته کتل او ټنګ ټکور او ریدل او حرام خیزونه څکل اوهمدارنګه حرام مال جمع کول په انسان باندي په هر ځاي کښې حرام او شرعا منعه دي، ځکه چه ددي ټولو علت یودي، هغه داچه دا ټول حرام دي.

﴿لِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٞ﴾ [المائدة: ٩٤]

**ددي دپاره چه ښکاره کړي الله تعالی هغه څوک چه ویریږي دالله تعالی نه په حالت دنه لیدلو کښې، پس چاچه زیاتی اوکړو، پس ددینه پس ده لره عذاب درد ناک دی.**

ای محترمه حاجي وروره، چه کله ته دحج نه واپس خپل وطن ته لا ړې، نو دخپل نفس سره مجاهده کوه، او په زړه کښې دالله توحید ته ځای ورکړه، او دهغه سره مینه کوه، او دخپل رب نه وریږه، او خاص هغه طرف ته رجوع کوه، تر دي پوري چه دخپل رب سره ملاو شي.

حاجي وروره: ته چه کله په خپل وطن کښې وي، تا به داسي ویل چه زه د الله تعالی سره محبت کوم، او دهغه نه ویریږم، او په هغه باندي توکل کوم، لیکن ستا دا وینا دلیل او رشتنوالي ته محتاجه وه، خو چه کله ته دحج ادا کولو لپاره راغلي، او خپله وینا دي رشتوني کړه، نو مبارک دو وي، که دا حج ستا دالله تعالی په در بار کښې مقبول وي.

﴿يَوۡمَ تَأۡتِي كُلُّ نَفۡسٖ تُجَٰدِلُ عَن نَّفۡسِهَا وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ﴾ [النحل: ١١١]

**په داسي ورځ چه رابه شي هر نفس کوشش به کوي د عذاب دفع کولو دځان نه، او پوره به ورکړسی شي هر نفس ته بد له دعملونو دهغه، او دوي باندي به ظلم نشي کیدی.**

نو کوشش اوکړه په خپل نفس باندي، او په دي مقصدونو باندي یي کوم چه مخکي ذکر شو نیک بخته کړه، نو د قیامت په ورځ به ستا لپاره ګواهي کوي.

او ددي سره دالله تعالی نه ډیري دعاګاني غواړه چه ستا دا حج په خپل در بار کښې قبول کړي.

حاجي وروره: کیدی شي چه الله تعالی په تا باندي ددي حج په وجه مهرباني کړي وي، او ته یي هغه مرتبي ته رسولی یي، کومه چه تا په خپل وطن کښې نه شوه حاصلولی، اګرکه ډیر کلونه دي دالله تعالی عبادت کړی وی.

نو دالله تعالی ډیر شکر کوه، ځکه چه شکر کول دانسان لپاره دنیاوي نعمتونه لکه مال او اولاد وغیره شو زیاته وي، او همدارنګه د شکر په وجه باندي الله تعالی ایماني نعمتونه لکه ایمان او احسان وغیره شو هم زیاته وي.

لیکن دحج نه بعد به ته په خپله زنده ګۍ کښي دالله تعالی په عبادت باندي ډیر حرص کوي، او هغه مرتبه چه الله تعالی تاته درپه برخه کړې ده، دهغي به حفاظت او ساتنه کوي، او هغه اسباب به اختیاره وي کوم چه تا دالله تعالی په عبادت باندي کلکه وي، لکه د صالحینو او نیکانو ملګرو په مجلسونو کښي حاضریدل، او همدارنګه د الله تعالی نه ډیري دعاګاني کول، او دنیک عمل کوشش او اهتمام کول، او دغفلت نه ځان بچ ساتل تر دي پوري، چه دخپل رب سره ملاو شي، او هغه له تانه راضي وي او ته په دي سره خوشحاله شي.

﴿ رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً ۚ إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ ﴾ [آل عمران: ٨]

**ای ربه زمونږ مه کږوه زړونه ځمونږ پس دهغي نه خودنه کړي ده تا مونږ ته، او اوبښي مونږ ته دخپل طرف نه پوخوالی په دین یقینا ته بخشش ورکونکی یئ.**

**والحمد لله رب العالمین وصلی الله وسلم علی سیدنا محمد وعلی آله وصحبه وسلم تسلیما کثیرا....**

IslamHouse.com

islamhouseps IslamHousePs IslamHousePs islamhouse.com/ps/

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM


contact us :Books@guidetoislam.com

GuidetoIslam.org Guidetoislam1 Guidetoislam www.Guidetoislam.com

المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات بالربوة
هاتف: ٩٦٦١١٤٤٥٤٩٠٠+ فاكس: ٩٦٦١١٤٩٧٠١٢٦+ ص ب: ٢٩٤٦٥ الرياض: ١١٤٥٧
ISLAMIC PROPAGATION OFFICE IN RABWAH
P.O.BOX 29465 RIYADH 11457 TEL: +966 11 4454900 FAX: +966 11 4970126

# د حج
# له مقاصدو څخه

په دې کتاب کښې د حج مقصدونه او ځنې نور ښکلې معلومات شته پکار ده چه په غور سره مطالعه کړی شي او پائده ترینه حاصله کړې.





IslamHouse.com
مركز أصول
OsoulCenter
www.osoulcenter.com